د کابل مجلې څخه - ګڼه ۱۶۸ - مخ ۱۷ - حوت ۱۳۲۳ - فبروري ۱۹۴۵

# دزړو خاونده!

ښاغلی محمد رسول خان پښتون،

سره ددغه چه ټولی خطاوی می کړی، او د شر تر بار لاندی ملامتی، او ستوماني پر ځان منم آیا ته به دغه یوه ډاډ گرینه ماته نه را کړی چه په پښېمانی نه را ځخه راضی کېږی ؟

ما په حبث دبوه پښوپانه ... وبخښه او ماته داسی گړندیتوب را کړه چه زغروبه تللی کاروان پسی وره شم .

ننورځ چه دزمکی تناو نه اندېښوی او په یوه وړاتوله او تیه تاریکه ترې کښي ژوند کوم زه دهر ږوږ په غوږو کونې کړم نه پوهېږم چه داورږ ځکاږی دا څوك دی؟ اودوی څه کوی چه په ماتي هم غواړی وکړی ځښتنه نه مي ساتنه وی شی!! اخ .. زه خو ستا اورنه تښتم مگر تاریکی مي مخه نیولی، او ځنی نا آشنا لاسونه مي پر سر تربي او کله کله په غوږ کښي راته وائي چه پدغه تیاره کښي کومی دی وړاندی مه ځه چه یکښي غوزار یږی.

زه کله تا یادوم او د ځان ځانی په دغه دنیا کښي ځان یوازی، او بی وزلی گڼم، زه ددغی تیاری په زندان کښي داسی سخت بندی یم چه ځما ساړه او سېلی د تاریکی تر دېوال وهاخوانه در نه ځی خلق نه اروی ، او هغه بی رحمه لاسونه چه ځما پر سر تربی ما نه پرېږدی چه زغ ترخوله وباسم .

ځما هغه ورځی را یادېږی چه هر کله به گنگو ماښام دکلی خاروی لکه لویه وړا بانی مخ پر کورو رار وانه اودوری به ئي پورته کیدی هغه وخت مونږ کوچنیان وچه دهغو مخ ته به مونږ کوله او په هغه دوړ به مو بیا دشپی کښي او نکلونه کول خو به وېده شوو، دا دورځی خاطرات به داسی خوازه وو، چه پخوب کښي به هم لکه د ا میدلمر دڅو ندانه نوری او ریځی نه پرغوړېدې .

نو هغه مهال چه زمونږ په زړو نه کښي دصدا قت او امیدونو د بوټي بلی اومونږ ئي په قدر نه پوهېدو آیا اوس ولی چه هغه دبوی مړي شوي بیا بیر ته نشی لگېدلای ؟

ای دقدرت هغه لاسه چه په پالو او معصومو زړو نو کښي د خوشحالتیا او حقیقت دبوټي بلوی، او خبرن زړونه لکه د تاریکی ..... یو پر بل سره گماری! نه هغه خواهشات مړه کړي چه ما نه پرېږدی چه پرمخ ولاړ شم .

ځما زړه ډېر ډك دی چه ستا خوږ یاد او دمینی خبری نشم پکښي ساتلای ځکه دنا وړو آمالو د آ ارخواشینی دیوه پلوه، او د تاریکی هول می د بله پلوه د زړه غولی داسی تنگ کړیدی چه ستا یادنه ورسره ځائېږی- رښتیا چه په دك غولی کښي د کور خاوند هم لکه مېلمه ځان ته دائمی ځای نشی نیولای .

نوای د کور خاوند یا دزړو خاونده! ستا په کور کښي پر دو ځای نیولیدی ته راشه، او ژر راشه چه ستا په راتلو سره پردی وتلی او دا وران کور ودان او رونبا نه شی .

❀ ❀ ❀